مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د لړم اوومه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۹مه | ٤٥۳مه گڼه

ځیره
۴ مخ

## نیل آرمسترانګ



آرمسترانګ لومړنی کس دی چې د سپوږمۍ پر امنه سیمه یې قدم اېښی. نوموړي د هوايي ماموريت له امله د سرو زرو شل مډالونه او شل زرين ستوري په خپل نامه ثبت کړي دي.

## د پاکستان پر سرغړونه د حکومت غبرګون؛
### اسلام اباد دې پر ډیورنډ فرضي کرښه له غیر قانوني اقداماتو لاس واخلي



۲

زموږ رایه، د درملوګ پربکړه
۲ مخ

په افغان سوله کې د روسانو هڅې او موخې
۳ مخ

ولې مو ماشومان ښوونځي ته له تلو وېرېږي؟
۵ مخ

## د سلام مخابراتي شبکه له «ریل ټایم» سیستم سره ونښلول شوه



د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت چارواکي وايي، د لومړي ځل لپاره د سلام مخابراتي شبکه له ریل ټايم سیستم سره ونښلول شوه چې له مخې به يې د دې شبکې د کرېډېټ کارت لس سلنه محصول په انلاين بڼه ثبتېږي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ سرپرست وزير محمد فهيم هاشمي پرون په کابل کې يوې خبري غونډې ته وويل، له شپږو مياشتو وروسته د ريل ټايم سيستم چمتو او د سلام مخابراتي شبکه ورسره ونښلول شوه. د نوموړي په خبره، له دغه سيستم سره د سلام مخابراتي شبکې نښلول د لس سلنه مخابراتي لګښت ثبتولو په روڼوالي کې له دوی سره مرسته کوي. هاشمي وايي، هڅه کوي چې په راتلونکو څو مياشتو کې ټولې خصوصي مخابراتي شبکې له ياد سيستم سره ونښلول شي، څو په دغه برخه کې د خلکو اندېښنې له منځه ولاړې شي. د دغه وزارت چارواکي وايي، که کومه مخابراتي شبکه ځان له دغه سيستم سره وصل نه کړي، له قانوني چلند سره به مخ شي.

## اوچا: د روان میلادي کال له پیله تر اوسه ۳۵۰ زره افغانان د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي دي

د ملګرو ملتونو د بشري چارو همغږۍ کوونکې ادارې يا اوچا ويلي، د روان ۲۰۱۹ ميلادي کال له پيله تر اوسه د جګړو له امله تر ۳۵۰ زره ډېر افغانان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي.

د يادې ادارې له لوري په تازه خپاره شوي راپور کې راغلي، دغه شاوخوا ۳۵۴ زره او ٦٦۴ کورنۍ د افغانستان په ۳۱ ولايتونو کې بې ځايه شوې دي. د راپور له مخې، تر ټولو ډېر کسان په شمال- ختيځو سيمو کې بې ځايه شوي چې شمېر يې ۱٦۰ زرو ته رسېږي. راپور دغه راز کاږي، دا شمېرې ښيي چې د تېر کال په پرتله، سږ کال د جګړو له امله د بې ځايه شويو شمېر د پام وړ زيات دی. د يادې ادارې د معلوماتو له مخې، تېر کال په همدومره موده کې ۳۱۰ زره کسان بې ځايه شوي وو. په راپور کې وړاندې راغلي، دا کسان په داسې حال کې د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ کېږي چې افغان امنيتي ځواکونو او وسله والو طالبانو د سولې په خبرو کې د پياوړې دريځ درلودو په خاطر، خپلو جګړو ته زور ورکړی چې له امله يې ملکيان سخت زيانمن شوي دي.

د يادونې ده چې په دې وروستيو کې د سولې خبرو له ناکامېدو سره سم جګړې هم زور اخيستی، چې له کبله يې په بېلابېلو ولايتونو کې خلک د خپلو مېنو پرېښودو ته هم اړ شوي دي.

## د البغدادي له وژل کېدو سره به داعش ډله په افغانستان کې هم له منځه ولاړه شي



۵ مخ

## ولسی جرگه: جامعهٔ جهانی باید جلو تجاوز پاکستان بر افغانستان را بگیرد



ولسی جرگه، حملهٔ نظامیان پاکستان بر ولسوالی (ناری) کنر را تجاوز آشکار بر افغانستان خوانده و از جامعهٔ جهانی خواست که برای قطع هرچه عاجل این گونه حملات نظامیان پاکستان، اقدام نمایند و جلو تکرار آن را بگیرند.

مسؤلان محلی در ولایت کنر می گویند که دو روز پیش، در حمله نظامیان پاکستان بر منطقه دوکلام و بریکوت ولسوالی (ناری) ولایت کنر، هفت تن به شمول سه زن کشته شده، چهار تن دیگر به شمول زنان و کودکان زخمی شده و شماری از خانواده ها مجبور به ترک منازل شان شده اند.

این اقدام، خشم نماینده گان مردم افغانستان را بر انگیخته است.

نعمت الله کریاب نماینده مردم کنر در ولسی جرگه، در نشست دیروز این جرگه گفت که پاکستانی ها در امتداد خط فرضی دیورند، دست به ساخت و ساز استحکامات می زنند و زمانی که نیروهای افغان مانع این کار شدند، پاکستانی ها دست به حملات بر منطقه دوکلام زده اند.

وی این حملات را محکوم کرده و گفت که این کار نظامیان پاکستانی، تجاوز آشکار بر افغانستان است و باید جلو آنها گرفته شود.

غلام حسین ناصری نماینده مردم کابل در ولسی جرگه گفت: «تجاوز آشکار بر نوامیس ملی است که بر یک بخش خاک ما و در ولسوالی ناری جنگ و حمله جریان دارد، این اقدام را محکوم می کنیم و باید حکومت در این راستا خاموشی اختیار نکند».

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

# د پاکستان پر سرغړونه د حکومت غبرگون؛

## اسلام اباد دې پر ډیورنډ فرضي کرښه له غیر قانوني اقداماتو لاس واخلي



پاکستان له کلونو راهیسې پر کونړ توغندي توغوي، خو تازه یې په دغه ولایت کې له افغان ځواکونو سره مخامخ نښته کړې ده. له پاکستاني عسکرو سره د افغان ځواکونو نښته نوې خبره نه ده، بلکې تر دې وړاندې هم په خوست، کندهار او جلال اباد کې هم د دواړو لورو ترمنځ نښتې شوې دي. پاکستان د میلیاردونو ډالرو په لگښت پر ډیورنډ فرضي کرښه د اغزن تار لگول او پوستې جوړول پیل کړي دي، چې په ټوله کې د نړیوالو قوانینو له نظره یو غیر قانوني کار او یو اړخیز اقدام دی. افغان حکومت بیا د پاکستان پر غیر قانوني اقداماتو غبرگون ښودلی او هغه یې غندلې دي.

د یکشنبې په ورځ مازیگر شاوخوا ځلور بجې پاکستاني عسکرو د کونړ په ناړۍ ولسوالۍ کې پر افغان خاوره بریدونه پیل کړل او له افغان سرتېرو سره یې نښته وکړه. افغان چارواکي وایي، پاکستاني لوري غوښتل چې پر ډیورنډ فرضي کرښه غیر قانوني نظامي تاسیسات جوړ کړي، خو افغان لوري یې مخنیوی کړی دی. تر دې وړاندې هم د دواړو لورو ترمنځ پر دغه مسئله ناندرۍ رامنځ ته شوې، د خبرو له لارې یو څه ستونزه حل شوې وه، خو پاکستاني لوري پر ژمنو وفا نه ده کړې او د تاسیساتو جوړولو ته یې ادامه ورکړې.

د پاکستاني عسکرو دغه کار په ناړۍ ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او عامو وگړو له غبرگون سره مخ شوی، چې له امله یې نښته رامنځ ته شوې ده.

پاکستاني عسکرو په دې نښتو کې له سپکو او درنو وسلو کار اخیستی دی او د عامو افغانانو پر کورونو یې توغندي توغولي دي. د راپورونو له مخې، په پېښه کې دری ښځې وژل شوې دي، یو سپین ږیری او دوه ماشومان ټپیان دي. بلخوا د کونړ والي بیا په یوه خپاره کړي ویډیویي پیغام کې ویلي چې ښایي د ټپیانو شمېر تر دې ډېر وي، ځکه ځینې یې روغتونونو ته لېږدول شوي او په اړه یې معلومات نشته دي.

په ناړۍ ولسوالۍ کې امنیتي ځواکونه وایي چې د عامو وگړو په ملتیا دوی بریالي شوي، څو پاکستاني عسکر په شا وتمبوي او هغه تاسیسات و نړوي، چې پاکستاني عسکرو په غیر قانوني توگه جوړ کړي وو.

بلخوا افغان حکومت بیا پر دغه مسئله غبرگون ښودلی دی او وایي چې دوی به له ډیپلوماتیکو لارو له پاکستان سره خپله ستونزه حل کړي.

د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي وایي، دوی پر پاکستان غږ کوي چې له خپلو غیر قانوني کړنو لاس واخلي او نړیوالو اصولو ته درناوی وکړي. د ده په خبره، افغان حکومت هڅه کوي چې له ډیپلوماتیکو لارو له پاکستان سره رامنځ ته شوې ستونزه حل کړي.

دا لومړی ځل نه دی چې پاکستان د افغانستان د ارضي تمامیت په نقضولو سره له یوې خوا پر فرضي کرښه غیر قانوني اقدامات کوي، له بلې خوا له افغان ځواکونو سره مخامخ نښته کوي. د ملي یووالي حکومت د کار له پیل سره سم د پاکستان غیر قانوني اقدامات تر بل هر وخت ډېر شوي دي او څو څو ځله مخامخ نښتې رامنځ ته شوې دي. افغان حکومت سره له دې چې په ځلونو له ډیپلوماتیکو لارو د ستونزو د حل خبره کړې ده، خو لا هم له پاکستان سره ستونزه پر ځای ده.

څو ورځې وړاندې ولسمشر غني هم په یوه کنفرانس کې د خبرو پر مهال ویلي وو، چې د افغانستان ځینې گاونډیان د ارضي تمامیت اصولو ته درناوی نه کوي، ترهگر روزي، حریم نقضوي او د طالبانو په روزنه او تمویل کې لاس لري. نوموړي سره له دې چې په واضح ډول یې د پاکستان نوم نه و اخیستی، خو موخه یې دغه هېواد و.

# د امریکا کانگرېس یوځل بیا د ولسمشر ټرمپ د استیضاح هڅې پیل کړې دي



د امریکا کانگرېس هغه پلټنې چې ایا د ولسمشر ټرمپ اقدامات له اساسي قانون سره په تضاد کې دي او کېدای شي پر اساس یې نوموړی استیضاح شي، روانه اونۍ پر سپینې ماڼۍ متمرکزې شوې دي.

په کانگرېس کې ډیموکراتانو له څه مودې راهیسې هڅې پیل کړې چې ولسمشر ټرمپ استیضاح کړي.

په دغه څېړنه کې چې د امریکا د کانگرېس د استازو جرگې د دریو کمېټو لخوا پر مخ وړل کېږي، د ملي امنیت شورا دری پخواني او اوسني چارواکي چې تر ټولو مهم پکې ټیم موریسن دی، په نښه شوي.

د یادونې ده چې موریسن د روسیې او اروپا په چارو کې د ولسمشر ټرمپ جگپوړی سلاکار دی.

نوموړی به د سپینې ماڼۍ لومړنی برحاله چارواکی وي چې د راتلونکې پنجشنبې په ورځ د تړلو دروازو ترشا په یوه استماعیه غونډه کې گډون کوي.

د استازیو جرگې د بهرنیو اړیکو، استخباراتو او د څار کمېټې هڅه کوي چې دا معلومه کړي چې ایا ولسمشر ټرمپ له خپلې دندې او صلاحیتونو د ځان په گټه او سیاسي اهدافو لپاره استفاده کړې او که نه؟

موریسن به چې گومان کېږي د اوکراین له ولسمشر سره د ټرمپ د ټلیفوني مکالمې په وخت حاضر و، لومړنی کس وي چې په دې استماعیه غونډه کې برخه اخلي او په دې اړه معلومات ورکوي.

دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ له خپل اوکرایني سیال ویلادیمیر زیلېنسکي څخه په ټلیفوني مکالمه کې له هغه غوښتي وو، چې د پخواني مرستیال ولسمشر جوبایډن په اړه چې د ولسمشرۍ په راتلونکو ټاکنو کې د هغه یو مهم احتمالي سیال گڼل کېږي، څېړنه وکړي. د راپورونو له مخې، جوبایډن هغه مهال له دندې په اوکراین کې د خپل زوی لپاره د سوداگرۍ چارو لپاره ناوړه استفاده کړې وه.

امریکایي جگپوړي ډیپلومات ویلیام ټایلر چې اوس په اوکراین کې دنده تر سره کوي، د اکتوبر په ۲۲مه په استماعیه غونډه کې د موریسن نوم اخیستی و او ویلي یې وو چې هغه د ټرمپ د خبرو شاهد و چې هڅه یې کړې وه، څو د اوکراین پر ولسمشر فشار راوړي چې که یې غوښتنه پر ځای نه کړي، نو پرکیف به شاوخوا ۴۰۰ میلیونه ډالره مرسته بنده کړي. په نورو چارواکو کې د ملي امنیت د پخواني سلاکار جان بولټن مرستیال چارلس کوپرمن دی. د راپورونو له مخې، کوپرمن له دې مخکې د کانگرېس یوې کمېټې ته په څرگندونو کې د ټرمپ اقدامات تر پوښتنې لاندې راوستي وو.

خو تر اوسه دا نه ده څرگنده چې ایا کوم چارواکی یا ټول چارواکي به په استماعیه غونډه کې گډون وکړي، ځکه ټرمپ ژمنه کړې چې د دې پلټنې مخه به ونیسي.

# صدیقي: افغان حکومت له طالبانو سره د سولې لپاره نوې تگلاره جوړه کړې ده

افغان حکومت د وسله والو طالبانو سره د پخلاینې لپاره د سولې یو اووه ماده ییز وړاندیز ترتیب کړی چې د چارواکو پر وینا، په افغانستان کې د سولې د ټینگېدو لپاره پکې تر ټولو لنډه اوعملي لار په پام کې نیول شوې ده.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي د دغه وړاندیز په هکله امریکا غږ ته ویلي چې د ولسمشر د سولې وړاندیز یو ټول شموله او یو اساسي وړاندیز دی.

په دغه وړاندیز کې د امریکا له متحدو ایالتونو غوښتل شوي چې له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو تر ایستلو وروسته باید له ترهگرۍ سره د مبارزې تگلاره برابره کړي. له طالبانو سره اوربند، له پاکستان سره د خبرو مراحل او په دغه هېواد کې د ترهگرو د روزنځایونو بندول، د دغه وړاندیز نورې مهمې مادې دي.

صدیقي ویلي: «دا یو وړاندیز دی، چې په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینگېدلو لپاره تر ټولو لنډه لار تضمینوي، چې طالبانو سره مخامخ خبرې، اوربند او د اوربند شرط په کې شامل دي».



صدیقي د دغه وړاندیز د موخو په اړه ویلي، چې یوه موخه یې د سولې په برخه کې د ملي اجماع بیا تازه کول، د سیمې له هېوادونو سره د اقتصادي پروگرامونو له لارې د همکاریو په سر خبرې او په نړیواله کچه د افغان حکومت د سولې له پروگرامونو ملاتړ برابرول، شامل دي. په ورته وخت کې د افغان حکومت له چوکاټ نه بهر د ځینو سیاسي گوندونو مشران وایي چې حکومت لا تراوسه ورسره د سولې دا وړاندیز نه دی شریک کړی.

د ملي اسلامي محاذ مشرسید حامد گیلاني پرون په کابل کې خبریالانو ته ویلي چې د دغه وړاندیز په اړه خبر شوی، خو لا ورسره شریک شوی نه دی.

ارگ داسې مهال د سولې لپاره خپله نوې تگلاره اعلانوي چې د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا ځانگړی استازي زلمي خلیلزاد په مسکو کې د افغانستان د سولې په اړه په څلور اړخیز کنفرانس کې له گډون وروسته د شنبې په ورځ کابل ته ولاړ. هغه د افغان حکومت د مشرانو او افغان سیاستوالو سره د سولې په مسله خبرې وکړې.

## دریځ

### زموږ رایه، د درملوګ پرېکړه

د ټاکنو کمېسیون لخوا په یوه بل بدلون کې ویل شوي چې د ټاکنو وروستۍ پایلې به د لیندۍ په ۱۵مه نېټه اعلانوي. دا تر ټاکل شوې نېټې نږدې یوه میاشت ځنډ ښیي. ورمه ورځ ټاکنو کمېسیون ویلي وو چې لومړنۍ پایلې به د لړم میاشتې په ۲۳مه اعلان کړي. د ټاکنو کمېسیون به اوس د رایو د تصفیې لپاره ولایتونو ته پلاوي لېږي او هلته به شته فزیکي رای پاڼې هره یوه د ځانگړو آلو په واسطه معلوموي چې دا رایې د باور وړ دي او که نه. د درملوگ د شرکت لخوا دا ورکړل شوې آلې به ولایتونو ته لېږدول کېږي او هلته به پرې اصلي او جعلي رایې معلومېږي.

وروستي بدلونونه ښیي چې زموږ د رایو په اړه وروستۍ پرېکړه درملوگ کوي، خو دا چې د درملوگ تر شا څوک دي او څه غواړي، معلومه نه ده. په افغانستان کې له ۲۰۰۴ ز کال راهیسې په ټاکنو کې بهرنیان لږ یا ډېر ښکېل وو. کله خو ځینې کمېشنران بهرنیان وو او کله هم د تخنیکي سلاکارانو په نامه په کمېسیون کې وو، خو تر بل هر وخت ډېر اوس زموږ د ټاکنو او د ټاکنو برخلیک د بهرنیانو په لاس کې دی. د ټاکنو کمېسیون له درملوگ شرکت سره په یوه حقوقي تړون استناد کوي، خو هېروي چې دا کوم حقوقي بحث نه دی، بلکې یو پېچلی تخنیکي بحث دی چې په ژوره توگه باید پکې کمېسیون ښکېل وی. درملوگ پر کمېسیون خپل سرور پلورلی دی، خو اصلي سرور په جرمني کې دی او یوازې کاپي یې دلته زموږ له کمېسیون سره ده، چې بیا به هم په تخنیکي لحاظ د درملوگ د انجنیرانو لخوا اداره کېږي. اوس چې درملوگ کومې رایې ته سمه او کومې ته ناسمه وایي، کمېسیون مجبور دی چې ویې مني، ځکه دا یو داسې تخنیکي بحث دی چې کمېسیون پکې نه معلومات لري او نه هم استدلال کولی شي. په دې ډول زموږ د رایو برخلیک د درملوگ په لاس کې دی. اوس چې د نوو آلو په واسطه په ولایتونو کې رایې ارزول کېږي، په تخنیکي لحاظ دا کار هم درملوگ کوي. دغه آلې به د رای پاڼو بارکوډونو ته مخامخ کېږي او معلوموي به چې رایه سمه ده او که ناسمه. له همدې امله هر څه چې درملوگ کوي، کمېسیون به یې مني او هغوی به وروستۍ پرېکړه کوي. له بده مرغه یو ځل بیا زموږ د ټاکنو برخلیک د بهرنیانو په لاس کې دی. هغوی چې د درملوگ تر شا دي، هر ډول چې غواړي، زموږ د ټاکنو برخلیک همغسې بدلوي. دوی به د خپلو سیاسي اهدافو لپاره یو ځل بیا دا ټاکنې داسې مرحلې ته یوسي، چې د بهرنیانو مداخلې ته لاره برابره کړي. ټاکنې به یا دویم پړاو ته ځي او یا به یې په لومړي پړاو کې پایلې څوک نه مني. له همدې امله لا هم زموږ رایو ارزښت نه دی پیدا کړی. د کمېسیون غړي، حکومتي چارواکي او ټول هغه کسان چې د دغه سیستم په پېرلو او کارولو کې ښکېل دي، مسوول دي او هغوی له دې ولس سره یو نه جبرانېدونکی ظلم کړی دی.

# په افغان سوله کې د روسانو هڅې او موخې

لیکوال: احمدشاه راشد- د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز څېړونکی

کله چې په افغانستان کې د داعش حضور مخ په زیاتېدو شو او په ۲۰۱۴ ز کال کې د بهرنیانو حضور په افغانستان کې کم شو، نو ورسره د افغانستان پر لور د مسکو پاملرنه هم مخ په زیاتېدو شوه، چې ورسره هممهاله له طالبانو سره د اړیکو له درلودو هم پرده پورته شوله. امریکایي او افغان چارواکو ادعا وکړه چې روسیه له طالبانو سره نظامي مرستې کوي او د داعش ډلې شمېر هم په دې خاطر زیات ښیي، څو دوی ته له طالبانو سره د هر ډول مرستې لپاره بهانه جوړه شي. روسیه دا ردوي چې له وسله والو طالبانو سره مرسته کوي، خو مني چې له هغو سره اړیکې لري. له دې هم سترګې نه شي پټېدای چې په تېرو څلورو کلونو کې د طالبانو او روسانو تر منځ اړیکې د بل هر وخت په پرتله ډېرې وغوړېدې. په ځانګړې توګه، تر هغه وروسته کله چې د ۲۰۱۵ ز کال د جنوري په میاشت کې په افغانستان کې د داعش د "خراسان" په نوم ډله جوړه شوه. همدارنګه د افغان سولې په پروسه کې یې هم خپل رول ادا کړ، روان میلادي کال (۲۰۱۹م) د دوه بین الافغاني غونډو کوربه وه، د یادولو وړ ده چې مسکو د افغان سولې د پروسې په اړه څو ځلې د درې اړخیزو، څلور اړخیزو او شپږ اړخیزو ناستو کوربه هم پاتې شوی و، چې اخري څلور اړخیزه ناسته د روان لمریز کال (۱۳۹۸) د عقرب میاشتې په درېیمه نېټه تر سره شوه.

**د کرزي په دوره کې د افغان- روس اړیکې**

کله چې امریکا پر افغانستان یرغل وکړ، روسیې یې هرکلی وکړ؛ ځکه د طالبانو د امارت پر مهال افغانستان نه یوازې دا چې چیچنیایان په رسمیت پېژندلي وو، بلکې د خپل امارت په وخت کې یې  په کابل کې د چیچنیا د سفارت پرانیستلو ته هم اجازه ورکړه. همدا لامل و چې له کابل څخه د طالبانو د وتلو پر مهال د روسیې ځینې ډیپلوماتان کابل ته راغلل او په کابل کې یې د ۲۰۰۱ ز کال د ډسمبر په ۲۸مه خپل سفارت پرانیست. د امریکا په راتګ سره په لومړي کال کې د روسیې او افغانستان ترمنځ د جګپوړو چارواکو سفرونه تبادله شول او هماغه مهال په افغانستان کې د روسیې لېوالتیا زیاته شوه؛ ځکه د افغانستان په لنډمهالي حکومت کې ډېری هغه څېرې وې، چې پخوا د شمالي ټلوالې غړي وو او له مسکو سره یې ښې اړیکې لرلې. له همدې کبله د ۲۰۰۲ ز کال د فبروري په څلورمه د روسیې د بهرنیو چارو وزیر کابل ته راغی او حامد کرزي ته یې مسکو ته د ورتګ بلنه ورکړه. د فبروري په ۱۲مه مارشال محمد قسیم فهیم مسکو ته ولاړ، هلته یې افغان اردو ته د وسلو رانیولو په تړاو خبرې وکړې؛ د فبروري په ۲۸مه د افغانستان د کورنیو چارو وزیر یونس قانوني هم مسکو ته ولاړ. وروسته حامد کرزی هم د روسیې د بهرنیو چارو د وزیر په بلنه، دوه ځله مسکو ته ولاړ. په ۲۰۰۵ ز کال کې روسیې افغانستان ته د ۳۰ میلیونو ډالرو په ارزښت نظامي تجهیزات او چورلکې ورکړې. کله چې د حامد کرزي د لومړۍ دورې په وروستیو کې د کابل- واشنګټن اړیکې د خرابېدلو پر لور ولاړې، په ۲۰۰۸ ز کال کې په امریکا کې اوباما ولسمشریزې ټاکنې وګټلې او د افغانستان د ۲۰۰۹ ز کال د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال، امریکا د افغانستان په ټاکنو کې لاسوهنه وکړه او هماغه وو چې د حامد کرزي اړیکې له امریکا سره خرابې شوې. د دې ترڅنګ، په ۲۰۰۸ ز کال کې د امریکا او روسیې اړیکې هم د جورجیا له کبله خرابې شوې وې؛ ځکه هغه مهال روسیې د امریکا پر یوه ملګري (جورجیا) نظامي یرغل وکړ او هلته یې د امریکا ګټې ونګولې. د امریکا- افغانستان اړیکو او د امریکا- روسیې اړیکو له خرابېدو سره افغان- روس اړیکې د ښه کېدو په لور شوې او مسکو د افغانستان له ۱۲ میلیاردو ډالر پور څخه، ۱۱.۱ میلیارده ډالر معاف کړل. وروسته یې په ۲۰۱۰ ز کال کې پاتې ۸۹۱ میلیون ډالره پور هم معاف کړ. په ۲۰۱۰ ز کال کې روسیې د افغانستان ملي اردو ته شل زره کلاشینکوفونه ورکړل، ۲۵۰ پولیس یې ورورزل، د نغلو بند بیارغونه یې پیل کړه او په ۲۰۱۱ ز کال کې خپله حامد کرزی مسکو ته په خپل درېیم رسمي سفر ولاړ. د دې تر څنګ، له ۲۰۰۸ ز کال راهیسې د افغان- روس خپلمنځي تجارت هم کال په کال زیات شو. په ۲۰۰۸ ز کال کې دوه اړخیزه سوداګري ۲۰۰ میلیون ډالره وه، په ۲۰۱۰ ز کال کې ۵۷۱.۳ میلیونه ډالره شوه او په ۲۰۱۳ ز کال کې یو میلیارد ډالرو ته ورسېده.

**د ملي یووالي حکومت په دوره کې د افغان- روس اړیکې**

کله چې په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت رامنځته شو؛ روسیې الکساندر منتسکي افغانستان ته د خپل نوي سفیر په توګه راولېږه. نوموړی مخکې د روسیې په بهرنیو چارو وزارت کې ډیپلومات او وروسته په هند، پاکستان او نیپال کې سفیر پاتې شوی و. همدا راز په دې دوره کې هم د روسي چارواکو راتګ افغانستان ته زیات و. د ملي یووالي حکومت په راتلو سره روسانو وضعیت ته په کتو سره، ورو ورو ګامونه پورته کول، هغه دوه موضوعات چې روسانو ته مهم وو، یو د امریکایانو په ۲۰۱۴ ز کال کې وتل وو او بل د ۲۰۱۵ ز کال په جنوري په میاشت کې په افغانستان کې د داعش د "خراسان" په نامه د ډلې د شتون اعلان و. دوی له افغان حکومت او طالبانو سره د اړیکو په اړه له سر غور وکړ. د امریکایانو د وتلو له اعلان سره  نه یوازې دا چې د دوی لېوالتیا زیاته شوه، بلکې د دوی اندېښنې یې هم زیاتې شوې. له یوې خوا دوی خوښ وو چې له سیمې او افغانستان څخه امریکایان ووځي؛ خو له بلې خوا بیا په افغانستان کې د ځواک د تشې له راتګ سره دوی له دې هم وېره درلوده، چې هسې نه افغانستان د بې‌ثباتۍ او ناامنیو پر لور ولاړ شي او په وروستي قدم کې به منځنۍ آسیا او خپله روسیه هم اغېزمنه کړي. له همدې امله دوی د امریکایانو له دغه اعلان سره له افغان حکومت سره خپلې نظامي مرستې زیاتې کړلې او د داعش د حضور له پراخېدو سره چې تر شا یې د امریکا لاس لرل یادول، له مجبورۍ یې له خپل پخواني دښمن یانې طالبانو سره اړیکې ښې کړې. د افغانستان لپاره د روسیې ولسمشر، ځانګړي استازي ضمیر کابلوف د ۲۰۱۵ ز کال په ډسمبر کې په ډاګه کړه چې د داعش پر ضد جګړه کې "د طالبانو ګټې په عیني ډول زموږ له هغو سره سمون لري" او بل له طالبانو سره په دې نیت اړیکه لرو، څو دوی له افغان حکومت سره د سولې خبرو کې ګډون ته وهڅوو.

**په افغان سولې پروسه کې د روسانو لېوالتیا**

کله چې امریکا پر افغانستان باندې برید وکړ، روسانو یې هرکلی وکړ. د عواملو په اړه مو پورته بحث وکړ، خو اوس رښتیا هم روسیه په افغانستان کې واقعي سولې ته د رسېدو په پار هڅې کوي، چې کېدای شي لاندې دلایل یې په اړه قانع کوونکی ځواب و اوسي:

په دې اخرو کې د امریکا جمهور رییس ټرمپ اعلان وکړ، چې د امریکا په تاریخ کې اوږده جګړه د افغانستان جګړه ده او غواړم چې دا اوږده جګړه ختمه کړم. ټرمپ وویل، خپل ټول سرتیري له افغانستان څخه وباسم. د همدې په خاطر یې له طالبانو سره نهه پړاوه خبرې هم تر سره کړې، چې وروسته د ځینو ستونزو له امله ناکامې شوې؛ خو ټرمپ اوس هم ټینګار کوي چې په افغانستان کې جګړه ختموم، نو له همدې امله روسان د ټرمپ له دې خبرو، نه یوازې دا چې خوښ ښکاري، بلکې د دوی اندېښنې یې هم زیاتې کړې دي. له یوې خوا دوی خوښ دي چې له سیمې او افغانستان څخه امریکایان ووځي؛ خو له بلې خوا بیا په افغانستان کې د ځواک د تشې له راتګ سره دوی له دې هم وېره لري، چې هسې نه افغانستان د بې‌ثباتۍ او ناامنیو پر لور ولاړ شي او په وروستي قدم کې به منځنۍ آسیا او خپله روسیه هم اغېزمنه کړي. له همدې امله دوی د ټرمپ له دې خبرو سره جوخت په افغانستان کې د سولې هڅې تېزې کړې، چې په روان میلادي کال کې د دوه بین الافغاني ناستو کوربه وو. همدارنګه د درې اړخیزو، څلور اړخیزو او شپږ اړخیزو ناستو کوربتوب یې هم کړی. بل عامل یې چې دوی په افغانستان کې واقعي سولې ته د رسېدو په پار هڅې کوي، هغه په افغانستان کې د داعش ډلې د شتون خبره ده. په دې تړاو د روسیې له ولسمشر ولادیمیر پوتین، د بهرنیو چارو وزیر لاوروف، په کابل کې د روسیې سفیر او د افغانستان او پاکستان لپاره د روسیې تر ځانګړي استازي کابلوف پورې ټولو لوړپوړو چارواکو خپلې اندېښنې څرګندې کړې دي. د نشه‌یي توکو قاچاق او په روسیه کې یې زیاتېدونکي روږدي کسان هغه بله اندېښنه ده، چې په افغانستان کې یې د روسانو لېوالتیا په افغان سولې پروسه کې زیاته کړې ده. د ملګرو ملتونو د یوې سرچینې له مخې، روسیه تقریباً د ټولې اروپا د تقاضا په کچه د اپیمو او مخدره موادو روږدي کسان لري (روسیه ۷۰ ټنه او اروپایي اتحادیه ۸۸ ټنه مخدره مواد استعمالوي) او هر کال تقریباً تر یو لکو پورې پر مخدره موادو روږدي کسان پکې مړه کېږي، چې له دېرشو زرو څخه تر څلوېښتو زرو پورې یوازې روسان دي. د روسانو په اند، روسیې ته د مخدره موادو قاچاق تر ډېره له افغانستان څخه کېږي؛ ځکه افغانستان اوس هم د نړۍ ۹۰ سلنه د نشه‌یي توکو تقاضا برابروي. بل عامل دا هم کېدای شي، چې په شمال کې ورځ تر بلې زیاتېدونکې ناامنۍ؛ په کندوز، فاریاب، بدخشان او تخار کې د وسله‌والو مخالفینو زیاتېدونکي عملیات، د روسیې د جګپوړو چارواکو ژورې اندېښنې راپارولې دي. له همدې امله په دې اړه روسي چارواکیو څرګندونې هم کړې دي. روسیه له دې وېره لري چې هسې نه د دغو ناامنیو لړۍ مسکو ته هم وغځېږي. پورتنې هغه عوامل دي چې د روسانو لېوالتیا یې د افغان سولې په پروسه کې زیاته کړې ده. د تېرې جمعې ورځې څلور اړخیزه ناسته، چې د مسکو په کوربتوب تر سره شوه او د امریکایانو او طالبانو  د مذاکراتو پر بیا پیل کېدو ټینګار په‌کې شوی دی.

**د روسیې په نوښت تر سره شوې ناستې**

لومړۍ بین‌الافغاني ناسته: د ۱۳۹۷ لمریز کال د سلواغې په ۱۶مه او ۱۷مه د روسیې په پلازمېنه مسکو کې د طالبانو او ځینو افغان سیاسیونو، جهادي رهبرانو او پخوانیو حکومتي چارواکو ترمنځ د افغان سولې په تړاو دوه‌ورځنۍ ناسته وشوه او په پای کې یې د ګډونوالو له‌خوا ګډه اعلامیه هم خپره شوه. د مسکو په دوه ورځنۍ ناسته کې پخواني ولسمشر حامد کرزي، محمد حنیف اتمر، محمد یونس قانوني، ملا عبدالسلام ضعیف، محمد اسمعیل خان، وکیل احمد متوکل، محمد محقق، عطا محمد نور او نورو ډېرو مطرح سیاستوالو قومي او دیني مشرانو، د عباس ستانکزي په مشرۍ له طالب استازو سره ناسته وکړه. یاده غونډه د ګډ پرېکړه لیک په خپرولو سره پای ته ورسېده. په دغه پرېکړه لیک کې ذکر شوي وو، چې: «ګډونوال پر دې باور دي، چې د بین‌الافغاني خبرو په پایله کې په افغانستان کې تلپاتې او با عزته سوله شوني ده». او د بین الافغاني خبرو پر دوام یې ټینګار وکړ. هغه وخت په قطر کې د امریکا- طالبانو خبرو هم دوام درلود او له هغه یې هم ملاتړ اعلان کړ. دوی وویل: «د سولې د ټینګښت په صورت کې به د افغانستان دفاعي او نور ملي بنسټونه خوندي او اصلاحات به پکې راوستل کېږي. په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ثبات لپاره د سیمه‌ییزو او سترو نړیوالو هېوادونو همکاري او ملاتړ اړین بلل کېږي. د نظام په ټولو امورو کې د اسلام له اساساتو پیروي، افغانستان د ټولو ګډ کور بلل، د قوي او ټول شموله مرکزي اسلامي حکومت پر خوندیتوب ټینګار، د ملي یووالي او عدالت تامینول، په سیمه‌ییزو او نړیوالو منازعو کې د افغانستان بې‌طرفي، له هېواده د بهرنیو قواوو بشپړ وتل، په افغانستان کې د نورو هېوادونو پر نه لاسوهنې او ګواښونو ټینګار، له افغانستانه نړیوالې ټولنې ته د ګواښ نه متوجه کېدو ډاډ، له اسلامي اصولو سره سم د بیان آزادي، تعلیم، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز فعالیتونه. د هېواد د بیارغولو او پراختیا لپاره د نړیوالو مرستو جلبول، د باور جوړونې په موخه د سپین ږیرو، ناروغو او همدارنګه هغو بندیانو را خوشي کولو لپاره هڅې، چې د بند موده یې پوره شوې یا کمه پاتې ده. دغه راز د ملګرو ملتونو سازمان له تور لېست څخه د طالب مشرانو د نومونو ایستل او د قطر په دوحه کې په رسمي توګه د دفتر پرانیستل. د قطر په پلازمېنه دوحه کې په نږدې راتلونکي کې د بین‌الافغاني تفاهم بله ناسته جوړول.» چې یاده ناسته هم جوړه شوه.

دویمه بین الافغاني ناسته: د ۱۳۹۸ لمریز کال د جوزا په اتمه او نهمه د روسیې په پلازمېنه مسکو کې  د روسیې او افغانستان د سل کلنو ډیپلوماټیکو اړیکو د جوړه شوې غونډې په څنډه کې؛ دا بین الافغاني ناسته هم تر سره شوه. یادې غونډې دوې ورځې دوام وکړ. په یاده ناسته کې طالبانو او ځینو افغان سیاستوالو، جهادي رهبرانو او پخوانیو حکومتي چارواکو برخه لرله. په یاده غونډه کې د طالبانو مشري ملا عبدالغني برادر کوله او په پای کې یې د ګډونوالو له‌خوا ګډه اعلامیه هم خپره شوه. په اعلامیه کې پر دغو ذکر شویو نقطو بحث شوی و: «د بهرنیانو په وتلو، اوربند، ځمکنۍ پشپړتیا، د ښځو حقوق، د نړیوالو او سیمه‌ییزو هېوادونو د مداخلې د لاسونو لنډول» او ورته مسائل مطرح شوي وو. دواړو لوریو د یو بل منل، زغم او د داسې غونډو په دوام یې ټینګار کړی و.

د درې اړخیزو ناستو کوربتوب: د ۱۳۹۷ لمریز کال د جدي میاشتې په ۱۹مه نېټه د روسیې په پلازمېنه «مسکو» کې د افغان سولې په تړاو درې اړخیزه (چین، پاکستان او روسیه) ناسته تر سره شوه. په دې ناسته کې د افغانستان پر اوسني سیاسي وضعیت بحث شوی و او تر څنګ یې ټینګار شوی و، چې د طالب مشرانو نومونه له تور لېست څخه وایستل شي، څو دوی وکولای شي په غونډو کې ګډون وکړي او د افغان کشالې د حل لپاره یې پر بین الافغاني خبرو ټینګار کړی و. د یادولو وړ ده چې تر اوسه پورې دوه درې اړخیزې ناستې د مسکو په کوربتوب تر سره شوې دي.

د شپږ اړخیزو ناستو کوربتوب: د ۱۳۹۵ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۲۶مه؛ د افغانستان، پاکستان، روسیې، هند، ایران او چین هېوادونو استازي په مسکو کې سره راغونډ شوي وو، څو په افغانستان کې د سولې په اړه سره سلامشورې وکړي. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو د څېړنې د مرکز رییس ویلي وو، چې دغه ډول ناستې د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره د سیمې هېوادونو د همپالنې، همغږۍ او ګډو هڅو د تر سره کېدو لپاره ګټورې دي. د یادې غونډې ګډونوالو په افغانستان کې یوې تل پاتې سولې ته د رسېدو په موخه، پر بین الافغاني خبرو ټینګار کړی و او له ټولو لوریو یې غوښتنه کړې وه چې تاوتریخوالی کم کړي، څو مخامخ خبرو اترو ته لار پرانیستل شي. تر اوسه پورې د مسکو په کوربتوب درې شپږ اړخیزې غونډې جوړې شوې دي.

**په روسیه کې څلور اړخیزې ناستې ته کتنه**

د روان لمریز کال د عقرب میاشتې په ۳مه نېټه  په مسکو کې د افغان سولې په تړاو دویمه څلور اړخیزه ناسته وشوه. د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد، د افغانستان لپاره د چین استازی ډنګ ژیان، د روسیې استازی ضمیر کابلوف او د پاکستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیر محمد اعجاز د دې ناستې ګډونوال وو. د دې ناستې په ګډه پای بیانیه کې د افغان جګړې له ټولو اړخونو غوښتل شوي، چې سملاسي د تاوتریخوالي کچې له کمولو سره د سولې خبرو ته لار برابره کړي. د دې هېوادونو استازو د افغانانو خپلمنځي خبرو کې د اوربند تمه ښودلې ده. په بیانیه کې پر طالبانو او افغان حکومت غږ شوی، چې د خپلمنځي خبرو په پیل کې د باور فضا جوړولو لپاره دې د پام وړ شمېر بندیان دواړه لوري خوشي کړي. همدارنګه دوی له افغان حکومت او طالبانو غوښتې چې د القاعدې، داعش او ختیځ ترکستان اسلامي غورځنګ په څېر ډلو ته اجازه ور نه کړي، چې له افغانستانه د نورو هېوادونو امنیت وګواښي. د دې ناستې ګډونوالو د افغانانو راتلونکو خپلمنځي خبرو د کوربتوب له امله د چین هرکلی وکړ او په افغان سوله کې د چین له صادقانه رول څخه یې مننه کړې. ټاکل شوې یاده ناسته په راتلونکو څو ورځو کې جوړه شي. ټاکل شوې چې په دې ناسته کې به د طالبانو په ګډون، افغان سیاسي مشرانو چې مشري به یې پخوانی جمهور رییس حامد کرزی کوي، ګډون وکړي. همدارنګه افغان حکومت هم ویلي چې د هغو کسانو نوملړ چې په یاده ناسته کې به ګډون وکړي، ډېر ژر د چین له حکومت سره شریک کړي.

**پایله**

کله چې امریکا پر افغانستان باندې برید وکړ، روسیې یې هرکلی وکړ. دا وخت د کابل او مسکو اړیکې د سیمې له وضعیت سره تړلې د بدلېدو په حال کې وې. په ۲۰۰۱ ز کال کې د کابل او مسکو اړیکې ګرمې شوې، د لوړ رتبه چارواکو سفرونه تر سره شول، پر افغانستان باندې د روسیې قرضونه چې وو، هغه وبښل شول، په نظامي برخه کې یې له افغان حکومت سره همکاري پیل کړه، خو کله چې د کرزي او امریکا اړیکې خرابې شوې او د روسیې او امریکا اړیکې د جورجیا پر قضیه خرابې شوې؛ د افغان حکومت او روسیې اړیکې د بل هر وخت په پرتله سره ګرمې شولې. خو په ۲۰۱۴ ز کال کې د بهرنیانو د حضور کمېدلو او په افغانستان کې د داعش له پیدا کېدو سره روسیه اندېښمنه شوله. دوی داسې وپتېیله چې وضعیت ته په کتو سره هم له افغان حکومت سره اړیکې باید وپالي او هم له طالبانو سره. که چېرې امریکا له افغانستانه وځي چې دلته بیا د نظام تشه رامنځته نه شي، نو ځکه یې له افغان حکومت سره نظامي مرستې وکړې او د داعش د مقابلې لپاره یې خپل دیرینه دښمن ته د هر اړخیزې همکارۍ لاس ور اوږد کړ. له ۲۰۱۴ ز کال وروسته روسیې د افغان کشالې د حل په موخه خپلې هڅې پیل کړې دي، د درې اړخیزو، څلور اړخیزو، شپږ اړخیزو او بین الافغاني ناستو کوربتوب یې کړی. دا چې روسیه په خپلو هڅو کې صادقه ده او که نه؛ دا به وخت ځواب وواییي، خو اوس شرایطو ته په کتو سره ویلی شو چې باثباته افغانستان د همسایه، سیمې او نړۍ د هېوادونو په ګټه دی، چې دا وضعیت روسانو درک کړی، نو ځکه په افغانستان کې د تل پاتې سولې راتلو لپاره هلې ځلې کوي.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

## شپږم څپرکی
## پښتونخوا د ترهگرۍ په لومه کې




ښوونځي په ځانگړي توگه د نجونو ښوونځي بند شول. په منگوره ښار کې وېشل شوو خبرتیاوو کې لیکل شوي وو: ((ښځي دې له اړتیا پرته هېڅکله بازار ته نه ځي.)) طالبانو به په (زرغونې څلور لارې) خلک ځړول، کله چې به خلک سهار مهال راووتل، وبه یې لیدل چې کوم کس هلته غرغره شوی. دې څلور لارې ته ځایي خلکو (د وینو څلور لارې) وایه. د ۲۰۰۸ز کال په دوبي کې، د وینو په څلور لاره د یوه پولیس افسر جسد غورځول شوی و، له جسد سره اېښودل شوي لیک کې لیکل شوي وو: ((د سوات د طالبانو د تحریک څانگه دا ډالۍ د شمال لوېدیځ سرحدي ولایت وزیر، امیر حیدرخان او اسفندیار ولي خان ته په سوات کې د پوځ د نظامي عملیاتو په بدل کې وړاندې کوي.))

د سوات پر ۱.۳ میلیونه وگړو د بشپړ کنټرول لپاره طالبانو د ځایي قومي مشرانو او د ټاکنو له لارې بریالي شوو مشرانو پر وژلو پیل وکړ. هغوی د چارتراشو او زمرودو پر کاروبار هم بشپړ کنټرول ولگاوه. د جمعیت گوند یوه مشر، سراج الحق بیا ویل چې طالبان د تاریخ په اوږدو کې د خان او غریب تر منځ د توپیر د موجودیت له کبله راپیدا شول، نوموړي زیاته کړه: ((د طالبانو لیکې د فیوډالانو له کبله راپیدا شوې. هغوی په خپله مخه کې هرڅه ظلمونه ولیدل، ځکه یې له خانانو سره ورته عمل وکړ، هغوی یې له خپلو کورونو و ایستل، د هغوی کورونه یې وپلورل، دا هغه څه وو چې همدې خانانو په پخوا کې له دوی سره کړي وو.))

طالبانو له خپلو مذهبي سیالو سره هم مخالفت وکړ. د پنجپیریانو د تحریک نفاذ شریعت محمدي ډلې سره یې مخالفت وکړ. هغوی له صوفېزم سره هم خپل ضد وپاله. طالبانو د ۲۰۰۸ز کال په ډسمبر کې د صوفېزم یو روحاني مشر، پیر سمیع الله په عام محضر کې وواژه، د هغه ځینې نور پلویان یې هم له ورته برخلیک سره مخ کړل، په دې کار سره یې هغوی ته پیغام ورکړ چې یا به لارې ته راځي او یا به له ورته برخلیک سره مخ کېږي. راتلونکی کال یې به بنور ولسوالۍ کې د پیر بابا زیارت ونیو او هلته یې د خلکو پر ورتگ بندیز ولگاوه.

د نېشنل عوامي گوند یو مشر، افضل خان، پاتې شو، پرېکړه یې وکړه چې له طالبانو سره جگړې ته دوام ورکړي. دا څلور اتیا کلن مشر، د طالبانو په تر ټولو لوړ غوښتل شوي لېست کې و، هغه نه محاکمې ته حاضرېده او نه هم له سوات څخه بل ځای ته تښتېده. هغه به تل پوښتل: ((که طالبانو خپل دولت درلودلای، که یې خپل ولسمشر، لومړی وزیر یا هم باچا درلودلای، د یوه مشروع دولتي سېستم په توگه یې فعالیت کولای، بیا به یې د شریعت پر بنسټ قضایي سېسټم فعاله کړی وای. دا چې دوی کوم دولت او سیاسي سېسټم نه لري، نو زه د چا محکمې ته ورشم؟)) هغه ته خلکو لالا ویل. د طالبانو په یوه غلچکي برید کې یې دوه لمسیان ووژل شول. پر هغه باندې هم په ۲۰۰۷ز کال برید وشو چې په ترڅ کې یې په مرمیو ژوبل کړ. نوموړي په روغتون کې خبریالانو ته ویلي وو: ((کله چې په روغتون کې د درملنې لپاره بستر وم، ما خبریالانو ته وویل که له هغو کسانو سره چې پر ما یې برید کړی و مخ شم، ورته وبه وایم؛ زموږ جرم څه و؟ ما په خپل ژوند کې کوم څوک په څپېړه هم نه دي وهلي، نو بیا مو ولې وژنئ؟))


د ۲۰۰۹ز کال په جنورې کې د پاکستان حکومت په ټولیزه توگه په سوات کې مات شو، دا هغه څه و چې یوازې پاکستاني چارواکو د پردې تر شا پرې خبرې کولې. وروسته له هغه چې د امریکا متحده ایالتونو د مرکزي کمانډو ځواک مشر ډیویډ پېټریوس د ۲۰۰۹ز کال په جنورې کې د پاکستان د پوځ له مشر، جنرال اشفاق کیاني سره تر کتنې وروسته، په پاکستان کې د امریکا سفیر په یوه راپور کې لیکلي وو: ((جنرال کیاني په څرگندو ټکو وویل چې د پاکستان حکومت په سوات کې بشپړ کنټرول له لاسه ورکړی و. پولیس دومره توان نه لري چې د پوځ له لوري نیول شوې سیمې خوندي کړي. هغه شپږ سوه پولیس چې له شمال لوېدیځ سرحدي ولایت څخه وو، ښه روزل شوي هم وو، خو د ښې قوماندې د نشتوالي په صورت کې تر شا شول.))

له مجبوریته د نېشنل عوامي گوند مشران یو ځل بیا اړ شول چې له طالبانو سره د سولې خبرې پیل کړي. د هغوی لومړیتوب دا و چې د صوفي محمد د یاغي شوي زوم له نفوذ کار واخلي. افراسیاب خټک راته وویل، په کومه کوټه کې چې یې له صوفي محمد سره مجلس لاره، په هماغه کوټه کې ځانمرگي هم وو. نوموړي راته وویل چې د طالبانو موخه یوازې په سوات کې د شریعت پلې کېدل نه و، بلکې هغوی تر دې لوړ راډیکال هدفونه لرل. خالد خټک وویل: ((د هغوی یوازینۍ موخه د شریعت پلي کېدل نه دي. هغوی غواړي په زور سره قدرت واخلي.))

**دوام لري...**

# نیل آرمسترانگ

شفیق امیرزی




نیل آرمسترانگ امریکایي فضانورد، ساینسپوه او لومړنی انسان و، چې د سپوږمۍ پر سطحه یې گام کېښود. دی د ناسا فضانورد یا ستورمزلی، ازموینکی پیلوټ، د هوا فضا انجنیر، د پوهنتون استاد او د امریکا د سمندري ځواک پیلوټ و. ده د کوریا په جگړه کې هم ماموریت تر سره کړی دی. د جگړې له پای سره سم آرمسترانگ د امریکا په هوایي پوځ کې و او ۹۰۰ پروازونه یې کړي دي. نوموړی له پردوست پوهنتون څخه فارغ شوی دی او پاتې زده کړې یې د جنوبي کالیفرنیا په پوهنتون کې بشپړې کړې دي.

هغه په فضایي برخه کې تر فعالیتونو مخکې، د امریکا په هوایي ځواک کې و. د جگړې تر پای ته رسېدو وروسته، آرمسترانگ د امریکا د هوایي ځواک په یوه اداره کې د ازموینکي پیلوټ دنده تر سره کوله. ده به الوتکې ازمویلې او د تخنیکي نیمگړتیاوو د له منځه وړلو مشورې به یې ورکولې.

هغه په سمندري ځواک کې د خپلې دندې تر پرېښودو وروسته، په ۱۹۶۲ز کال کې له ناسا سره یو ځای شو. لومړنی پرواز یې په ناسا کې دا و، چې د جمینای اته ماموریت مشري وروسپارل شوه. په ۱۹۶٦ز کال کې یې د یوه غیرنظامي کس په توگه فضا ته سفر وکړ. دی لومړنی کس و، چې په فضا کې یې د دوو سپوږمکیو د یو ځای کولو ماموریت مخ ته وړ. ده باید دوې داسې سپوږمکۍ سره وصل کړې وای چې دواړو له ځان سره فضانوردان لېږدول او دا ماموریت باید بریالی شوی وای.

دویم او وروستی ماموریت یې آپولو ۱۱ و. په همدې ماموریت کې له آلدرین سره یو ځای د ۱۹٦۹ز کال د جولای په ۲۰مه د لومړي ځل لپاره د سپوږمۍ پر سطحه راښکته شو. په دې توگه نو آرمسترانگ لومړنی کس و، چې پر سپوږمۍ گام ایږدي او په یوه خطرناک ماموریت کې ځان د سپوږمۍ سطحې ته رسوي. دوی پوره دوه نیم ساعته د سپوږمۍ پر مخ ځینې پلټنې او څېړنې وکړې. مایکل کولینز بیا له دوی سره ملتیا کوله او په سپوږمکۍ کې د دوی په تمه و.

د نیل آرمسترانگ پلار کونیگ آرمسترانگ نومېده. مور یې لوئیس انگل وه. دی د اوهایو ایالت په واپاکونیتا ښار کې دنیا ته راغلی و. نیل د ایرلنډي- سکاټلنډي ټبر له خلکو و. دوه خویندې او دوه وروڼه یې لرل. پلار یې د اوهایو ایالت دولتي محاسب و، چې له همدې امله یې په ځلونو د هېواد گوټ گوټ ته سفرونه کړي او کوچېدلی دی. ویل کېږي چې له پلار سره یې نیل تر شل کلنۍ پورې نږدې د امریکا په شلو بېلو ښارونو کې ژوند کړی دی.

پلار یې د هغه د زده کړو لپاره په بلوم ښوونځي کې ده ته فرصت برابر کړ او د وروستي ځل لپاره یې د هغه د زده کړو لپاره په ۱۹۴۴ز کال کې بېرته واپاکونتا ښار ته کډه وکړه. آرمسترانگ په ۱۵ کلنۍ کې د پرواز زده کړه پیل کړه او د ښار په هوایي ډگر کې یې د الوتکو د الوځولو زده کړې ته ادامه ورکوله، تر دې چې د الوتکې د پرواز سند یې تر لاسه کړ. هغه د موټر چلولو تر جواز مخکې د الوتکې د پرواز جواز اخیستی و. هغه یو فعال ځوان و، په پروازونو کې یې ډېرې ژر مهمې رتبې خپلې کړې، چې له همدې امله بیا وروسته د امریکا په پوځ کې د مخکښو پیلوټانو له ډلې و.

نیل د کورنۍ دویم غړی و، چې پوهنتون ته منل شوی و. ده خپل لېسانس د هوانوردۍ د انجنیر په توگه په ۱۹۵۵ز کال کې واخیست. له پردیو پوهنتون فارغ شو او د زده کړو ټول لگښت یې د هالووی پلن له لوري ورکول کېده. په دې کې یې ده ته د دوو کلونو زده کړو، دوو کلونو عملي پروازونو او بیا دوو کلونو نورو زده کړو چې په دې توگه یې لېسانس بشپړې ده، ټول لگښتونه ورکړل. دوی تر فراغت وروسته د واده کولو حق نه درلود، ځکه خو اړ و چې تر فراغت وروسته پوره څلور کاله په فضایي برخه کې کار وکړي.

آرمسترانگ په ۱۹۷۰ز کال کې د جنوبي کالیفرنیا له پوهنتونه ماسټري یا د هوا فضا د برخې تخصص واخیست. خو تر څنگ یې د امریکا له څو پوهنتونونو افتخاري دوکتوراوې هم لرې. آرمسترانگ په ۱۹۵٦ز کال کې له ژانت شرون سره واده وکړ او تر بېلتون وروسته یې په ۱۹۹۴ز کال کې له کارول نایت سره د گډ ژوند اړیکه جوړه کړه.

د ۱۹۵۰ز کال د اگست په ۱٦مه د آرمسترانگ له شل کلنۍ پوره دوې اونۍ اوښتې وې، چې هغه په سمندري ځواک کې له گومارل کېدو خبر شو. له دې وروسته یې دلته فعالیتونه او زده کړې پیل کړې. دی د سکادران ۷ د پیلوټ په توگه مقرر شو. دوه میاشتې وروسته د سکادران ۵۱ جنگي الوتکې پیلوټ شو. دا په هغه وخت کې پیاوړې جېټ الوتکې وې. دی چې کله د دویم کال محصل و، نو مهم پروازونه یې تر سره کړل او له همدې لارې یې ورځ په ورځ وده کوله. زده کړې یې لا بشپړې شوې نه وې، چې د ایف ۵۱ الوتکې په ملتیا د کوریا جگړې ته واستول شو او په دې ماموریت کې یې برخه واخیسته. په ټوله کې نیل د کوریا په جگړه کې ۸۷ پروازونه تر سره کړي. په مجموعي توگه یې په همدې مهال ۱۲۱ ساعته د جگړې پر مهال په هوا کې تېر کړي دي. ده د هوایي ماموریت له امله د سرو زرو شل مډالونه او شل زرین ستوري په خپل نامه ثبت کړي دي. په ۲۲ کلنۍ کې یې د امریکا سمندري ځواک پرېښود او خپلو زده کړو ته ور وگرځید.

د امریکا په هوایي ځواک کې د دندې تر پرېښودلو وروسته، آرمسترانگ بېرته پوهنتون ته ورگرځي او په لومړیو څلورو ازموینو کې تر ټولو لوړې نمرې اخلي. ده په ۱۹۵۵ز کال کې لېسانس په پردو پوهنتون کې بشپړ کړ. مېرمنې یې په همدې پوهنتون کې اقتصاد لوست چې دی ورسره معرفي شو او وروسته یې په ۱۹۵٦ز کال کې واده وکړ. دوی درې اولادونه لرل.

آرمسترانگ چې له پوهنتونه فارغ شو، نو د امریکا په ازموینتي هوایي اډه کې یې دنده پیل کړه. دی ازموونکی پیلوټ و او الوتکې به یې ازمویلې. همدا راز یې په هوایي برخه کې له تحقیقاتو سره مرسته کوله. دا مرکز وروسته په ۲۰۱۴ز کال کې د آرمسترانگ په نامه ونومول شو او اوس هم په همدې نامه یادېږي. دی د امریکا د نظامي کمېټې تر ډېرو بحثونو او رایو وروسته دې دندې ته غوره شوی و او ازموینتي پروازونه به یې کول. ده د ازموینتي پروازونو په لړ کې په څو مهمو نظامي اډو او روزنځایونو کې دندې تر سره کړې دي. نوموړي په دې موده کې په مجموعي توگه ۲۴۰۰ ساعته ازموینتي پروازونه کړي دي او د خپل ژوند په اوږدو کې یې په ۲۰۰ ډول ډول الوتکو کې د پرواز تجربه لرله.

آرمسترانگ هېڅ وخت دا فکر نه و کړی او نه یې هم په دې اړه پرېکړه کړې وه چې دی به یوه ورځ د نړۍ پر مشهور فضانورد بدلېږي. هغه په ۱۹۵۸ز کال کې د (فضا کې انسان) پروژې په لړ کې فضا ته د تگ لپاره انتخاب کړل شو. په ۱۹٦۰ز کال کې آرمسترانگ د ایکس۲۰ د ازموینتي ډلې د غړي په توگه انتخاب شو. د ۱۹٦۲ز کال د مارچ په ۱۵مه د هوایي چلند د شپږو غوره پیلوټانو او انجنیرانو په ډله کې راغی. په همدې وخت کې څو میاشتې وروسته ناسا د اپولو پروگرام په لړ کې د فضانوردانو لېست خپراوه. آرمسترانگ ډېر هیجاني و. وروسته د ۱۹٦۲ز کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه په فضایي مرکز کې پر دنده وگومارل شو. د همدې کال د سپټمبر په ۱۳مه دک اسلایتون له آرمسترانگ سره اړیکه ونیوله او له هغه یې وغوښتل چې د ناسا له فضانوردانو سره یو ځای شي. آرمسترانگ هم له څنډ او تشویش پرته ژر د هو ځواب ورکړ. درې ورځې وروسته ورځپاڼو راپور خپور کړ چې آرمسترانگ لومړنی غیر نظامي فضانورد دی.

کله چې اپولو ۱۱ ماموریت پیلېده، نو آرمسترانگ په سپوږمکۍ کې سپور و او ساترن ۵ توغندي باید دغه سپوږمکۍ لېږدولې وای. د آرمسترانگ د زړه ضربان ۱۱۰ ته رسېدلی و. ده ځان کنټرول کړ. ده وړتیا لرله او پر دې بریالی شو چې خپل حالت کنټرول کړي. له ده سره دوه مل ملگري هم له دې خطرناک حالته روغ ووتل. د اپولو ۱۱ ماموریت موخه دا وه چې سپوږمکۍ د سپوږمۍ پر یوې امنه او ځانگړې سیمه راښکته شي.

درې دقیقې د سپوږمکۍ او سپوږمۍ تر منځ فاصله وه چې سپوږمکۍ له فضایي ستونزو سره مخ شوه او په سپوږمکۍ کې د خطر زنگونه روښانه شول. د سپوږمکۍ سون توکي هم مخ په خلاصېدو وو، کمپیوټرونو هر څه تحلیلول. آرمسترانگ سپوږمۍ ته وکتل، و یې لیدل چې مستقیماً د یوې لویې ډبرې پر لوري ور روانه ده. که دوی کوم کار نه وی کړی، دغه ماموریت به پر یوه درنه چاودنه پای ته رسېدلی وای. آرمسترانگ د سپوږمکۍ کنټرول له کمپیوټره واخیست او پخپله لاس پکار شو. ده د سپوږمکۍ مسیر بدل کړ. په سختۍ یې سمه ساحه پیدا کړه او سپوږمکۍ یې همغه مسیر ته برابره کړه. ۳۰ ثانیې پاتې وې چې سپوږمکۍ یې خاموش کړه او په دې توگه لومړنی انسان د ۱۹٦۹ز کال د جنورۍ په ۲۰مه د شپې په اتو بجو، ۱۷ دقیقو او ۳۹ ثانیو سپوږمۍ ته ورسېد. تر ساعتونو وروسته یې د سپوږمکۍ کړکۍ پرانیسته او د شپې په ۲ بجو او ۵٦ دقیقو یې د لومړني انسان په توگه خپله چپه پښه د سپوږمۍ پر مخ کېښوده. همدا ماموریت و چې نیل آرمسترانگ یې نړیوال شهرت ته ورساوه او د نړۍ په گوټ گوټ کې یې زرگونه خلک گوته په غاښ کړل. ده د پښې اېښودلو پر مهال وویل، دا د یوه انسان واړه گامونه، خو د بشریت د خوځښت لپاره ستر گامونه دي.

وروسته سپوږمۍ ته لومړنی تللی انسان له مالي ستونزو سره مخ کېږي. همدا چې په ناسا کې له خپلې دندې استعفا ورکوي، اړ کېږي چې د موټر جوړونې له یوې کمپنۍ سره د تبلیغاتو په برخه کې کار وکړي. بیا د شرکت د ویاند په توگه دنده تر سره کوي. همدا راز یې د امریکا د بانکدارانو په عمومي انجمن کې هم کار کړی دی. ده د خپل ژوند د چلولو لپاره کار کاوه. هغه پیاوړی، زحمتکښه او هڅاند شخصیت و.

آرمسترانگ د ۲۰۱۲ز کال د اگست په ۷مه د زړه د تکلیف له امله بستري شو. د ده یو شریان بند و او باید عملیات شوی وای. د همدې عملیات له امله د همدې کال د اگست په ۲۵مه یې په روغتون کې سا ورکړه. تر هغه وروسته د نړۍ له گوټ گوټه زرگونو کسانو د هغه په مرگ د خواشینۍ پیغامونه خپاره کړل. د امریکا ولسمشر د دوی له کورنۍ سره د خواشینۍ پیغام شریک کړ. خو د آرمسترانگ کورنۍ وویل، دوی خواشیني نه دي. دوی د خپلې کورنۍ د یوه بریالي شخصیت پر کارونو ویاړي. د دوی په خبره باید خپل حیرانوونکی ژوند تجلیل کړي. د نړۍ په گوټ گوټ کې باید بشریت د پرمختگ او همپالنې لپاره کار وکړي. د ملتونو وگړي باید د خپلو خلکو ارمانونه پوره کړي او د آرمسترانگ په څېر ناممکن کارونه ممکن کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۰ |
| € | ۸٦,۳۰ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# ولې مو ماشومان ښوونځي ته له تلو وېرېږي؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

ښوونځي ته له تلو د ماشومانو وېره څه نوي او عجیبه خبره نه ده. ډېر ماشومان وړکتون او ښوونځي ته له تلو وېرېږي. هغه ماشومان چې د یو کلنۍ او دوه کلنۍ عمر منځ کې له موره جدا شي، هغه ده چې له اظطراب او وېرې سره مخ کېږي. ځینې داسې ماشومان هم شته چې د خپل له انگړ ورهاخوا د سختۍ نا ارامۍ او یو ډول ډار احساس کوي. دا طبیعي خبره ده او په دې اړه مو ماشومانو ته کومه جدي اندېښنه مه کوئ. دا ډول حس د وخت په تېرېدو او له نورو خلکو او چاپېریالونو سره د خپلو ماشومانو په ورو ورو اشنا کولو له منځه ځي. که مو ماشومان ښوونځي ته له تلو وېرېږي، دا مقاله تر پایه ولولئ، څو مو له خپلو ماشومانو سره د دې وېرې په له منځه وړلو کې مرسته وکړي.

له خپلو والدینو د بېل والي وېره په ځینو ماشومانو کې د نورو په پرتله بیخي زیاته وي. دوی نه غواړي چې د یوې دقیقې لپاره دې هم له خپل مور او پلاره جدا شي. دا وخت تاسې له هغوی سره ډېر په هوښیارتیا مخکې لاړ شئ، ځکه کېدای شي هغه په راتلونکې کې د همدې عادت لرلو له امله له بدو پېښو سر مخ شي. که ستاسې ماشوم د ډېر وخت لپاره ښوونځي ته له تلو وېرېږي، کېدای شي د ماشوم پر روحي او فزیکي اړخ مو بد تاثیر وکړي.

**ښوونځي ته له تلو د وېرې نښې نښانې**

هغه ماشومان چې له ښوونځي وېرېږي، ډېری یې ډېر حساس او فعال دي. دغه ماشومان غواړي چې هر وخت یې له والدینو سره و اوسي او له هغوی د بېل والي په صورت کې له سټرېس سره مخ کېږي. که ستاسې ماشومان لاندې نښې نښانې ولري، کېدای شي ښوونځي ته له تلو هم ووېرېږي او په اسانه ورته زړه ښه نه کړي.

له مور او پلار د بېل والي په حال کې خپه کېدل؛
ښوونځي ته د تلو په وخت ناراحته کېدل؛
ښوونځي ته د تلو په وخت ساعت ته ډېر کتل؛
د شنبې ورځې په رارسېدو خواشیني کېدل؛
جمعې او نورو رخصت ورځ ته خوشاله کېدل؛
له هغو ماشومانو سر مینه او ملگري کول، چې ښوونځي نه لولي؛
زیات وخت، خو ناراحته خوب کول.

هغه ماشومان چې ښوونځي ته له تلو وېره لري، ډېر وخت بانې کوي او په یو رقم نه یو رقم ځان خلاصوي. دا کومه جدي اندېښنه نه ده، خو د ماشوم پر زده کړو ډېره ناوړه اغېزه کوي.

له نېکه مرغه چې مور او پلار کولای شي له ماشومانو سره د دې وېرې په له منځه وړلو کې مرسته وکړي. تر ټولو ښه لار یې دا ده چې له هغوی وپوښتي، ولې ښوونځي ته له تلو وېرېږي؟

څنگه له هغو ماشومانو سره مرسته وکړو چې ښوونځي ته له تلو وېرېږي؟

**۱ـ له هغوی سره خواخوږي وکړئ**

بیا هم وایو چې ښوونځي ته له تلو وېره حتمي ده چې په ماشوم کې له منځه لاړه شي. که پوه شوی چې د ماشوم وېره او ډار مو خطرناک او وېروونکی دی، هغه وخت په دې اړه له اړوند ډاکټر سره خپله ستونزه شریکه کړئ. که دې ستونزې ته پام ونه کړی، حتمي ده چې د ماشوم پر کسب و کار او زده کړو به مو د وخت په تېرېدو سره بد اغېز وکړي.

څېړنې ښیي چې ډېری وخت یو ماشوم د فزیکي ناروغۍ له امله ښوونځي ته د تلو زړه نه ښه کوي. څېړونکي وایي، که مو ماشوم ښوونځي ته له تلو وېرېږي، لومړی یې ډاکتر ته بوځئ او د هغه د وجود معاینه وکړئ. کېدای شي د همدې فزیکي ناروغۍ له امله ښوونځي ته د تلو زړه ښه نه کړي. وروسته له دې چې د ماشوم له جسمي لحاظه مو زړه خاطر جمعه شو، بیا د ښوونځي له آمر، ښوونکي او یا هم ارواپوه څخه مشوره وغواړئ. د هغوی په مرسته کوښښ وکړئ چې د خپل ماشوم د وېرې دلایل ځان ته روښانه کړی. د ښوونځي د کارکوونکو په مرسته کولای شی خپل ماشوم ښوونځي ته تشویق کړی او د وخت په تېرېدو سره ورو ورو دغه ستونزه له منځه یوسی.

کېدای شي ستاسې کورنی وضعیت هم د دې لامل شوی وي، چې ماشوم مو ښوونځي ته د تلو زړه نه ښه کوي. ښه ده چې له هرڅه مخکې یوځل په کور کې له ماشوم سره ستاسې چار چلند ته هم کتنه وکړئ.

**۲ـ له ماشوم سر مو خبرې وکړئ**

کېدای شي ځینې وخت مو ماشومان ستاسې له غوښتنې پرته خپل احساسات بیان نه شي کړای. د (هو) او (نه) پوښتنو پر ځای له هغوی داسې پوښتنې وکړئ، چې تاسې ته اوږدې او یا هم له (هو) او (نه) اوږدې خبرې وکړي. د بېلگې په ډول، بچیه ته په ښوونځي کې ولې وېرېږې؟

**۳- هغه خنډونه پیدا کړئ چې دوی زده کړو ته نه پرېږدي**

وگورئ چې ایا ماشوم خو به مو له دې وجې ښوونځي ته زړه نه ښه کوي، چې هغوی تنبل دي او درس نه شي زده کولای؟ که مو ماشوم له همدې امله ښوونځي ته نه ځي، اندېښنه مه کوئ، د نړۍ وتلي او پوه کسان هم لومړیو کې ښوونځي ته له تلو وېرېدل. ښه ده چې دا وخت هغوی ته د ښوونکي په درسي میتود، په ټولگي له دوی سره د چار چلند او خپله په کور کې په وار وار له ماشوم سره د درس پر تکرار او د هغوی پر تشویق او هڅونه فکر وکړئ. که مو له دې هره یوه ستونزه پیدا کړه، ژر یې د حل لپاره اقدام وکړئ.

**۴- خپل ماشوم ته مو تسلي ورکړئ**

تل مو ماشوم ته ووایئ چې هرڅه ښه کېږي او تاسې د هغه د زده کولو وړتیا لری او کولای شی راتلونکې ورځ، یا راتلونکې اونۍ، کال او یا هم په راتلونکي ټولگي کې هغه زده کړی.

**۵ـ ماشوم ته مو ښه ملگری پیدا کړئ**

له ښوونکي یا بل داسې د باور وړ کس څخه په دې اړه مرسته وغواړئ، چې ښوونځي ته د تلو او یا هم په ښوونځي کې د سټرېس او وېرې په وخت ستاسې له ماشوم سره مرسته وکړي. په دې اړه تر ټولو ښه مرسته کوونکی کس، د ماشوم لپاره د ښوونځي ښه ملگری کېدای شي. کوښښ وکړئ چې داسې یو څوک مو خپل ماشوم ته په ملگرۍ ونیسئ، چې ښوونځۍ ته د تلو، په ښوونځي او له ښوونځي د راتلو په وخت کې ستاسې د ماشوم ملگري وکړي.

**٦- له ټولگیوالو سره مو د ماشوم اړیکې ټینگې کړئ**

ماشوم ته مو ووایئ چې له ټولگیوالو سره ښې اړیکې ولري، ښه خبره دا ده چې د ماشوم ټولگیوال مو له ماشوم سره یو ځای یوه ښه محفل ته بوځئ. دا محفل تر ډېره په خپل کور کې ونیسئ. کله چې مو د خپل ماشوم ټولگیوال کور ته راوبلل، د هغوی تر مخ خپل ماشوم په ډېرو ښو نمونو یاد کړئ او د هغوی تر مخ یې ښه ستاینه وکړئ. د هغه د ښو عادتونو په اړه هغوی ته خبرې وکړئ او ووایئ چې تاسې په ټوله مانا له هغه راضي یاستی.

## څارونکي بنسټونه: د ټاکنو د پایلو په اعلان کې ځنډ د قانون خلاف دی

د ټاکنو د روڼتیا لپاره د څارونکو بنسټونو شبکې ویلي، د ولسمشریزو ټاکنو د لومړنیو پایلو په اعلان کې ځنډ د ټاکنو پر پروسه شکونه ډېروي او دغه پروسه تر پوښتنو لاندې راولي.

دا په داسې حال کې ده چې د ولسمشرۍ ټاکنې د تلې په شپږمه وشوې او خلکو پکې ۱۳ نوماندانو ته رایې ورکړې.

د ولسمشرۍ ټاکنو د مهالوېش له مخې، ټاکل شوې وه چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې د تلې په ۲۷مه او وروستۍ پایلې یې د لړم په ۱۵مه اعلان شي؛ خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون وړمه ورځ وویل چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې به د لړم به ۲۳مه اعلان شي.




د ټاکنو د روڼتیا لپاره د څارونکو بنسټونو شبکې غړي عبدالله احمدي تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته ویلي، چې د ولسمشرۍ ټاکنو د لومړنیو پایلو ځنډول، د ټاکنو پر پروسې شکونه ډېروي او دغه پروسه تر پوښتنو لاندې راولي.

هغه دغه ځنډ د ټاکنو کمېسیون د مدیریتي کمزورتیا له امله بللی او زیاته کړې یې ده: «زموږ غوښتنه دا ده چې د ټاکنو پایلې تر هر ډول سیاسي فشار پرته ډېر ژر اعلان شي، ټاکنیزو کمېسیونونه باید په دې اړه ټول اړین اطلاعات او معلومات له خلکو او څارونکو بنسټونو سره شریک کړي».

دغه راز د دې شبکې بل غړي حبیب الله شینواري ویلي چې د ټاکنو د پایلو په اعلان کې ځنډ د ټاکنو قانون خلاف عمل دی.

د هغه په خبره، ټاکنیز کمېسیونونه له څارونکو بنسټونو سره همکاري نه کوي او اړین اطلاعات نه ورکوي. خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د ځینو تخنیکي ستونزو او له ناپاکو رایو د پاکو رایو بېلولو له امله یې ونه شو کړای چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې پر ټاکلې نېټه اعلان کړي.

د یاد کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ ویلي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته له سرعت څخه روڼتیا مهمه ده او هېڅکله به روڼتیا د سرعت قرباني نه کړي.

## ارگ: د البغدادي له وژل کېدو سره به داعش ډله په افغانستان کې هم له منځه ولاړه شي

افغان حکومت د امریکا لخوا د ابوبکر البغدادي له وژل کېدو هرکلی کړی او هیله یې ښودلې چې له دې سره به داعش په افغانستان کې هم له منځه ولاړ شي.

دا په داسې حال کې ده چې داعش وسله والې ډلې د عراق او سوریې په څېر په افغانستان کې هم ډېر بریدونه کړي، چې سلگونه کورنۍ یې د غم پر ټغر کېنولې دي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي ازادي راډیو ته ویلي: «د البغدادي وژل کېدل د داعش ډلې په له منځه وړلو کې یو لوی گام دی، د افغانستان حکومت د امریکا متحده ایالتونو له دې اقدامه هرکلی کوي، متاسفانه داعش یوه تر ټولو بده او تروریستي ډله ده چې د خلکو په وژنې کې لاس لري



او د نړۍ یوه لویه برخه یې بې ثباته کړې وه، موږ هیله من یو چې د دغه کس نابودي د دې لامل شي چې موږ په بېلابېلو سیمو خاصتاً په افغانستان کې د دې ډلې د له منځه تللو شاهد و اوسو».

د یادونې ده چې ابوبکر البغدادي ځان د اسلامي دولت ډلې یا داعش خلیفه اعلان کړی و او په ۲۰۱۴ ز کال کې یې وروسته له هغې د نړیوالو پام ور واړاوه، چې وسله والو یې د عراق ځینې مهم لوېدیځ ښارونه له عراقي حکومته ونیول.

د البغدادي ډله له عراقه سوریې ته پراخه شوه او د راپورونو په اساس، دی تر پایه په سوریه کې پاتې و. د ابوبکر البغدادي د وژل کېدو اعلان وړمه ورځ د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ وکړ. هغه وویل: «د امریکا متحده ایالتونو د نړۍ لومړۍ درجه تروریست مشر عدالت ته وسپاره، ابوبکر البغدادي ووژل شو، دی په نړۍ کې د تر ټولو بې رحمه او وحشي تروریستي سازمان اسلامي دولت ډلې مشر و». ټرمپ په دې وینا کې چې له سپینې ماڼۍ خپرېده، زیاته کړه چې بغدادي د شنبې په شپه د سوریې په شمال لوېدیځ کې د امریکایي ځانگړو ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې ووژل شو.

داعش ډله په عراق او سوریه، افغانستان او ځینو اروپایي هېوادونو کې د مرگونو بریدونو مسووله بلل کېږي چې پکې زرگونه کسان مړه او ټپیان شوي دي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د بهه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai · TURKISH AIRLINES · Emirates · ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۸ د لړم اوومه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۹مه | ٤٥٣مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | ۲٦ | ۳۱ | ۲٥ | ۳۰ | ۲۹ |
| ۹ | ۱۱ | ۱۳ | ۱٤ | ۱۸ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤٦ | لمر ختل ۰٦:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:٤۱ | ماښام ۰٥:۰٥ | ماخوستن ۰٦:۳۰

نړۍ




## اروپايي ټولنې منلې چې د ۲۰۲۰ ز کال تر جنورۍ دې له دې ټولنې د برېټانیا وتل وځنډېږي



اروپايي ټولنې هوکړه کړې چې له دې ټولنې څخه د برېټانیا وتل دې د راتلونکي کال د جنورۍ تر ۳۱مې وځنډول شي.
د اروپايي شورا مشر ډونالډ ټوسک پر خپل ټویټر لیکلي، د اروپايي ټولنې ۲۷ نورو غړو هېوادونو د برېټانیا هغه غوښتنه ومنله، چې برېګزیټ دې د ۲۰۲۰ ز کال د جنورۍ تر ۳۱ مې وځنډول شي.
نوموړي زیاته کړې: «تمه ده چې دا پرېکړه به په روانه اونۍ کې د لیکنۍ مراحلو له لارې رسمي شي».
د دې هوکړې له مخې، که له اروپايي ټولنې څخه د برېټانیا د وتلو په اړه د دواړو خواوو ترمنځ هوکړه وشي، برېټانیا د جنورۍ تر ۳۱مې مخکې له دې ټولنې وتلی شي.
د ټوسک لخوا دا اعلان په داسې حال کې کېږي چې د اروپايي ټولنې ډیپلوماتان په بروکسل کې راټول شوي، څو له دې ټولنې د برېټانیا په وتلو کې ځنډ تصویب کړي چې ټاکل شوې وه د اکتوبر تر ۳۱ مې له دې ټولنې ووځي.
د یادونې ده چې دا په ۲۰۱٦ ز کال کې په برېټانیا له اروپايي ټولنې څخه د دغه هېواد د وتلو په اړه له تر سره شوې ټولپوښتنې راهیسې دویم ځل دی، چې د برېګزیټ (له اروپايي ټولنې څخه د برېټانیا وتلو) نېټه غځېږي.

## راپورونه: تر البغدادي وروسته د داعش ډلې ویاند او راتلونکی احتمالي مشر هم وژل شوی



کردي وسله وال ویلي، د اسلامي دولت یا دعش ډلې ویاند ابو حسن المهاجر د ابوبکر البغدادي تر وژل کېدو څو ساعته وروسته په پوځي عملیاتو کې وژل شوی دی.
د سورېې ډیموکراټیکو کردانو ویلي، امریکايي ځواکونو په جلا عملیاتو کې ابو حسن المهاجر چې ډېر اټکل کېده د البغدادي ځایناستی به شي، وژلی دی.
دوی دغه راز زیاته کړې چې المهاجر جرابلس ته څېرمه په عین البیضاء کلي کې وژل شوی دی.
په ورته وخت کې د سورېې د بشري حقونو لندن مېشتې ډلې هم د المهاجر وژل کېدل تایید کړي دي.
یاد سازمان دغه راز ویلي، د اسلامي دولت یا داعش ډلې پنځه مخکښ قوماندانان هم د سورېې د ډیموکراټیکو ځواکونو په ملګرتیا د امریکايي ځواکونو په عملیاتو کې وژل شوي.
د البغدادي وژل کېدل دغې ډلې ته یو لوی ګوزار ګڼل کېږي، چې تر اوسه یې د بل مشر په ټاکل کېدو سلا نه ده شوې، خو دغې ډلې ویلي، که مشر هم ونه لري، په سوریه او بهر کې د بریدونو وړتیا لري.
د یادونې ده چې د داعش ډلې مشر ابوبکر البغدادي د شنبې په شپه د امریکايي ځانګړو ځواکونو په عملیاتو کې له خپلو دریو کوچنیو زامنو سره یوځای ووژل شو.


## عبدالله: درکنار صلح باید متوجه تأمین شفافیت انتخابات هم باشیم



عبدالله عبدالله، رئیس اجرائیه حکومت وحدت ملی دیروز در نشست شورای وزرا گفت که از هر فرصت پیش آمده برای صلح باید استفاده شود، اما در کنار آن باید متوجه شفافیت پروسهٔ انتخابات باشیم.
او افزود: «بحث صلح و انتخابات همیشه مطرح است، باورم به این است که در هر لحظه که فرصت برای تأمین صلح باشد، در حالیکه یک لحظه هم نباید از تأمین شفافیت انتخابات غافل باشیم و نتایج پاک انتخابات سبب تعین سرنوشت باید شود».
عبدالله گفت: «موقف ما همیشهٔ همین است که هر فرصت که پیش میاید، باید استفاده کنیم و در این عین حال کاملاً متوجه تأمین شفافیت انتخابات بوده باشیم».
آقای عبدالله همچنان در این نشست، بر بی‌طرفی و حفظ استقلال کمیسیون‌های انتخاباتی تأکید کرده‌است.
وی افزوده است: «انتخابات شفاف در کشور ما سبب نجات مردم سالاری، روند دیموکراسی و تأمین ثبات در کشور می‌شود که توجهٔ کمیسیون‌های محترم را برای حفظ استقلال شان و تأمین شفافیت در باقی روند انتخابات، خواستار هستیم».
وی همچنان از کارکردهای آقای صلاح‌الدین ربانی، سرپرست وزیر پیشین وزارت خارجه که هفتهٔ گذشته از مقامش کنار رفت، ستایش کرد.
او دربارهٔ استعفای آقای ربانی گفت: «وزیر پیشین وزارت خارجه، صلاح‌الدین ربانی استعفا شان را تقدیم کردند، اگرچه علاقمندی من این بود که در روزهای پایانی کارهای حکومت وحدت ملی، اگر ادامه می‌دادند، شاید بهتر بود، اما به دلایلی که خودشان هم توضیح دادند و متأسفانه فضای کاری مناسب نیست و آنها هم استعفا شان را تقدیم کردند».
از سوی دیگر، او دربارهٔ سفر زلمی خلیل‌زاد، نمایندهٔ ویژه امریکا برای صلح افغانستان در کابل گفت که او با آقای خلیل‌زاد دربارهٔ روند صلح، بحث و گفت‌وگو کرده‌است.


ژوند

## په خپل سر یوناني درمل مه کاروئ



یوناني درمل که څه هم چې په پوره طبیعي ډول جوړ شوي وي، کېدای شي د ځیګر لپاره زیان پېښ کړي. تاسو به لیدلي وي چې زموږ ډېری هېوادوال له دې ډول درملو ګټه اخلي او ان د روغتیا وزارت هم د دې ډول درملو پلورونکو ته د کار اجازه ورکړې ده. څېړنو ښودلې، دا چې په دې ډول درملو کې د بېلابېلو بوټو د یو ځای کېدو انډول په پام کې نه وي نیول شوی، نو کېدای شي ځیګر ته زیان واړوي او د تور یا هم سپین زېړي لامل شي. په ډېری هېوادونو کې د دې ډول درملو کارول بېخي بند شوي دي، خو په ځینو هېوادونو لکه هند او نورو کې لا هم له یوناني درملو څخه ګټه اخیستل کېږي او کارونه یې پر یوه دود بدله شوې ده. له ډاکټرانو سره تر سلا پرته د طبیعي او یوناني درملو له کارولو ډډه وکړئ. په خپل سر مسکن درمل مه کاروئ. مسکن درمل، چې اېستامینوفین لري، که له کچې ډېر مصرف شي، ځیګر ته زیان رسوي. ډېری کسان دغه ډول درمل کاروي، خو له زیانونو یې خبر نه دي. که دغه درمل د زکام له درملو سره یو ځای وکارول شي، نو زیان یې لا ډېرېږي؛ ځکه کوم درمل چې د زکام لپاره کارول کېږي، هغه هم په زیاته پیمانه اېستامینوفین لري.

## نه شی کولای چې د نړۍ ټول خلک خوښ وساتی



کلونه وړاندې یوې لویې غونډې ته زما د وینا او زما د تجربې د کمښت په اړه یوه کس مقاله لیکلې وه. یادې مقالې په لومړي سر کې خواشینی کړم، خو بیا مې فکر وکړ چې زه نه شم کولای د ټولو خلکو زړونه لاسته راوړم او یا دا چې ټول خلک باید زما دوستان وي، خو خپله هڅه به کوم. کېدای شي د ټولو خلکو د تایید وړ ونه ګرځی. همدا درته بسنه کوي چې خدای پاک تاسې تایید کړی یاست او پر دې کار یې ګومارلی یئ. تاسې خلکو نه یئ راغوښتي، نه خلک ستاسې برخلیک ټاکلی شي.
خلک نه شي کولای هغه طرحه ګډه وډه کړي، چې خدای پاک ستاسې لپاره جوړه کړې ده. تاسې خدای پاک راغوښتي، تجهیز، مکمل کړي او ټاکلي یاست. کله چې د ژوند وروستي پړاو ته رسېږي، تاسې خلکو ته نه، بلکې خدای پاک ته ځواب ورکوونکي یئ. لازمه نه ده چې د خلکو له غوښتنو سره سم ژوند وکړی او یا مو د هغوی خبرې زړه توري او له موخې واړوي. تاسې د خدای پاک مخلوق یئ. تاسې د هغه فصل لپاره چې پکې اوسی، د هېڅ شي کمی نه لری. د هغه څه په اړه چې نه یې لری او یا مو که په بله بڼه درلودی، هېڅ فکر مه کوئ او دا هرڅه مو له ذهنه وباسئ.